# دَ کولوسيانو په نُوم دَ پولوس رسُول خط

## سلام

١ ۱ دَ پولوس له طرفه چه دَ خُدائے په رضا دَ مسيح
عيسىٰ رسُول دے اَؤ زمُونږ ملګرى تيموتيوس له طرفه، ۲
په مسيح کښے هغه پاکو اَؤ ايماندارو ورُونړو ته چه په
کولوسى کښے دى.

زمُونږ دَ پلار خُدائے له طرفه دِ په تاسو فضل اَؤ سلامتى
وى.

## پولوس دَ کولوسيانو په وجه دَ خُدائے شکر کوى

۳ مُونږ ستاسو په حق کښے هميشه دُعا کوُو اَؤ دَ خپل
مالِک عيسىٰ مسيح دَ پلار، يعنے دَ خُدائے شکر کوُو، ۴
ځکه چه مُونږ آؤريدلى دى چه ستاسو په مسيح عيسىٰ ايمان
دے اَؤ دَ ټولو پاکانو سره مينه کوئ، ۵ دَ هغه اُميد په
سبب چه ستاسو دَ پاره په آسمان اِنتظار کوى، چه ذکر ئے
تاسو دَ زيرى دَ حق په کلام کښے آؤريدلے دے، ۶ نو
تاسو دَ هغه اُميد په باب کښے واؤريدل. لکه چه دَ کُومے
ورځے نه تاسو په اول ځل دَ خُدائے دَ فضل کلام واؤريدو
اَؤ ربښتُونے مو وګڼلو نو په تاسو کښے هم دغسے وده کوى
لکه چه په ټول جهان کښے هم ميوه ورکوى اَؤ ترقى کوى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ اَوُ تاسو دا پیغام زمُونږ دَ خوږ ملګری اِپفراس نه زده
کړے دے چه زمُونږ دَ پاره دَ مسیح اِتباری خادم دے. ۸
هغهٔ مُونږ ته وښوول چه رُوحُ القُدس په تاسو کښے څنګه
مینه پیدا کړله. ۹ نو په دے وجه چه دَ کُومے ورځے نه
مُونږ دا آؤریدلی دی، مُونږ هم دَ خُدائے نه ستاسو دَ پاره دَ
دے په دُعا اَوُ خواست کولو کښے همیشه لګیا يُو چه تاسو
دِ دَ ټولے رُوحانی پوهے اَوُ حِکمت سره دَ خُدائے دَ مرضئ
دَ عِلم نه معمُور شئ، ۱۰ دَ دے دَ پاره چه ستاسو چال چلن
دَ مالِک لایق وی اَوُ دَ هغهٔ په هر شان خوښ شئ، اَوُ په تاسو
کښے دَ هر قِسم نیک کار میوه وشی، اَوُ دَ خُدائے په
پیژندګلو کښے په لوئیدو شئ، ۱۱ دَ هغهٔ دَ جلال دَ قُدرت په
مُطابق دَ هر قِسم قُوت سره مظبُوط شئ چه په خوشحالئ
سره په هر شان سره صبر اَوُ زغم کولے شئ. ۱۲ اَوُ دَ هغه
پلار شکر کوئ چا چه تاسو دَ دے جوګه کړئ چه دَ هغهٔ په
میراث کښے حصه دار شئ. دا هغه میراث دے چه دَ پاکانو
سره به دَ هغه نُور په بادشاهت کښے برخه ولرئ. ۱۳
خُدائے مُونږ دَ تیارے دَ قبضے نه راخلاص کړلُو اَوُ دَ خپل
محبُوب زوئے په بادشاهئ کښے ئے داخل کړلُو. ۱۴ په
هغهٔ کښے مُونږ ته فدیه، یعنے دَ ګُناهُونو نه مُعافی حاصله
ده.

## دَ مسیح شخصیت اَوُ کار

۱۵ مسیح دَ نالیدلی خُدائے په عکس اَوُ دَ ټول مخلُوق نه
اُوچت دے. ۱۶ ځکه چه دَ هغهٔ په وسیله ټول څیزُونه پیدا
کړے شول چه په آسمان کښے وی یا په مزکه، لیدُونکی وی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یا نالیدُونکی، تختُونه وی یا ریاستُونه یا حُکومتُونه یا
اِختیارات، هر څۀ دَ مسیح په وسیله اَؤ دَ هغۀ دَ پاره پیدا شو.
۱۷ اَؤ دغسے مسیح دَ ټولو څیزُونو نه اول دے اَؤ ټول
څیزُونه په هغۀ کښے قائم دی. ۱۸ اَؤ هغه دَ بدن، یعنے دَ
جماعت سر دے، هغه ئے ازل دے، اَؤ دَ مړو نه بیا ژوندے
کیدُونکو نه دَ ټولو نه اول پیدا شو دَ پاره دَ دے چه په ټولو
خبرو کښے دَ هغۀ درجه اول وی. ۱۹ ځکه چه دَ خُدائے دا
خوښه شوه چه دَ هغۀ ټول کاملیت دِ په مسیح کښے پاتے
شی. ۲۰ اَؤ خُدائے دَ هغۀ دَ وینے په سبب چه په سولیٔ
وبهیدله، صُلح وکړله اَؤ ټول څیزُونه ئے دَ هغۀ په وسیله دَ
ځان سره پخلا کړل، آیا که هغه دَ مزکے وی یا که دَ
آسمانُونو.

۲۱ اول تاسو پخپله هم دَ خُدائے نه لرے وئ اَؤ دَ هغۀ
دُښمنان وئ ځکه چه ستاسو خیالُونه اَؤ کارُونه بد وُو. ۲۲
خو اوس دَ مسیح دَ جسمانی مرګ په وسیله خُدائے تاسو
سره پُخلا شو چه هغه تاسو مُقدس، بے عیبه اَؤ بے الزامه په
خپل مخکښے حاضر کړی، ۲۳ په دے شرط چه تاسو دَ
ایمان په بُنیاد مضبوط اَؤ ټینګ یئ اَؤ دَ هغۀ اُمید پرے نۀ
ږدئ چه په زیری آؤریدو سره ستاسو په زړُونو کښے پیدا
شو. هغه زیرے ټول مخلُوقات ته واؤرولے شو، اَؤ زۀ
پولوس دَ هغۀ خادم شوم.

## پولوس دَ جماعت خادم

۲۴ زۀ اوس په هغه کړاوُونو کښے خوشحاله یم کُوم چه
ستاسو دَ خاطره تیروم، اَؤ دَ مُصیبتُونو کمے دَ مسیح دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بدن، یعنے دَ جماعت دَ خاطره په خپل وجُود کښے پُوره
کوم. ۲۵ دَ خُدائے دَ هغه اِنتظام په مُطابق زَهٔ دَ جماعت
خادم شوم چه ستاسو دَ پاره ما ته وسپارلے شو، دَ دے دَ
پاره چه زَهٔ دَ خُدائے دَ کلام پُوره پُوره پیغام ورکړم، ۲۶
یعنے هغه راز چه دَ زمانو اَؤ دَ پیړیو راسے پټ وو خو اوس
دَ هغهٔ پاکانو ته ظاهر شو. ۲۷ خُدائے پاکانو ته ظاهرول
غوښتل چه دا بے حده شاندار اَؤ قیمتی راز دَ غیر یهُودیانو دَ
پاره هم دے، اَؤ هغه راز دا دے چه مسیح په تاسو کښے
اوسیږی اَؤ هم هغه دَ راتلُونکی جلال اُمید دے. ۲۸ مُونږ دَ
هغهٔ پیغام واؤرؤو اَؤ هر چا له نصیحت کؤو اَؤ هر یو ته په
پُوره هوښیارتیا تعلیم ورکؤو چه مُونږ هر څوک په مسیح
کښے کامل کړُو اَؤ پیش ئے کړُو. ۲۹ اَؤ دَ دے دَ پاره زَهٔ دَ
مسیح دَ هغه قُوت په مُطابق دَ زړهٔ سره خواری کوم چه په
ما کښے په زور اثر کوی.

۲ ۱ زَهٔ غواړم چه تاسو په دے پوهه شئ چه ستاسو دَ
پاره اَؤ دَ لودیکیانو دَ پاره اَؤ دَ هغوئ ټولو دَ پاره چه ما په
شخصی طور نهٔ پیژنی، څومره خواری کوم، ۲ دَ دے دَ
پاره چه دَ هغوئ په زړُونو کښے تسلی پیدا شی اَؤ چه هغوئ
په مینه کښے دَ یو بل سره تړلی وی اَؤ دَ پُوره پوهے سره
ترقی وکړی، اَؤ داسے به دَ خُدائے راز یعنے مسیح وپیژنی.
۳ دَ حِکمت اَؤ معرفت ټولے خزانے په هغهٔ کښے جمع
دی.

۴ دا زَهٔ دَ دے دَ پاره وایم چه څوک تاسو ته په خوږو
خبرو دوکه درنهٔ کړی. ۵ ځکه چه اګر که په وجُود کښے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو نه لرے یم خو په رُوح کښے ستاسو سره یم، اَؤ زۀ ستاسو په وجه خوشحاله یم ځکه چه زۀ وینم چه تاسو باقاعده په خپل ایمان کښے چه په مسیح دے، قائم یئ.

## په مسیح کښے دَ ژوندُون معمُوری

٦ نو تاسو چه مسیح عیسیٰ په طور دَ خپل مالِک قبُول کړو، هم هغه شان دَ هغۀ په یووالی کښے ژوندُون تیروئ.
٧ اَؤ په هغۀ کښے دَ ونو په شان بیخ ولرئ دَ مانړئ په شان په هغۀ بُنیاد ولرئ، اَؤ څۀ رنګ چه تاسو تعلیم آخستے دے، هم هغه شان په ایمان کښے مظبُوط اوسئ، اَؤ دَ خُدائے ډیر شکر کوئ.

٨ دَ خپل ځان خیال ساتئ چه هیڅوک هم تاسو په خپل فلسفیانه اَؤ بے مطلبه ټګئ کښے ګیر نۀ کړی، ځکه دا حِکمت دَ مسیح نۀ دے بلکه دَ اِنسانی روایاتو اَؤ دَ دُنیا دَ اِبتدائ خبرو په مُطابق دے.
٩ ځکه هر څۀ چه خُدائے دے، هم هغه شان مسیح په خپل اِنسانی حالت کښے په کامل طور هم هغه دے.
١٠ اَؤ تاسو دَ مسیح په یووالی کښے کمال ته رسیدلی یئ چه دَ ټولو حُکومتُونو اَؤ اِختیارُونو سر دے.

١١ اَؤ په هغۀ کښے تاسو داسے سُنت شوئ چه په لاس سره نۀ کیږی، یعنے دَ مسیح نه سُنت شوئ، یعنے دَ خپل ګُناه لړلی فطرت نه بچ شوئ.
١٢ اَؤ تاسو دَ مسیح سره په بپتسمه کښے ښخ شوئ اَؤ په هغۀ کښے مو دَ هغه خُدائے په قوت ایمان راؤړو چه هغه ئے دَ مړو نه ژوندے کړو، اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو هم ورسره ژوندی شوئ. ۱۳ اَؤ هغۀ تاسو هم چه دَ
خپلو ګُناهُونو اَؤ دَ وجُود دَ ناسُنتوالی په وجه مړۀ وئ، دَ هغۀ
سره ژوندی کړئ اَؤ زمُونږ ټول ګُناهُونه ئے وبخښل. ۱۴ هر
څۀ چه مُونږ دَ شریعت دَ حُکمُونو په خلاف قُصورُونه کړی
وُو، هغه په یوه روزنامچه کښے لیکلی شوی وُو، هغۀ هغه دَ
روزنامچے لیک په خپله وران کړو، یعنے هغه ئے په سولۍ
ټک وهلو، اَؤ زمُونږ دَ مخے نه ئے لرے کړلو. ۱۵ اَؤ هغه
شان هغۀ دَ حکومتُونو اَؤ دَ اِختیار دَ خاوندانو وسلے
واخستلے، یعنے دَ سولۍ په سبب هغوئ له دَ ماتے ورکولو
سره ئے دَ ټولو په مخکښے ماتے خوړلی دُښمنان څرګند
کړل.

۱۶ نو هیڅوک هم دَ خوراک څښاک یا دَ اختر یا دَ نوے
میاشت یا دَ سبت په حقله دِ په تاسو اِلزام ونۀ لګوی. ۱۷
ځکه چه دا دَ راتلُونکو څیزُونو سورے دے خو مسیح
حقیقت دے. ۱۸ هیچا له موقعه مه ورکوئ چه څوک دِ
خپل ځان په ښۀ ګڼلو تاسو مُجرم کوی. داسے خلق په
خاص خاص کشفُونو لیدو سره بل مجبُوروی چه هغوئ
خپل ځان عاجزان کړی اَؤ فرښتے خُدایان ومنی. داسے
عاجزی رښتینی نۀ ده اَؤ داسے خلق دَ خپل عقل په خبرو
بے فائدے وپړسیږی. ۱۹ داسے خلقو خپل روابط دَ مسیح
سره، یعنے دَ سر سره پرېښی دی. دَ مسیح په ټول وجُود
اِختیار دے، اَؤ هغه وجُود دَ مسیح نه دَ طاقت مُوندلو په
وسیله پلے، بندُونه اَؤ اندامُونو په یو بدن کښے یو ځائے
کیږی. داسے هغه دَ خُدائے دَ مرضۍ په مُطابق لوئیږی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ که تاسو دَ دُنيا دَ قُوتُونو په نسبت دَ مسيح سره مړۀ
شوئ نو بيا تاسو ولے دَ هغوئ په شان ژوند تيروئ چه دَ
دے دُنيا وى؟ اَؤ تاسو ولے دَ هغوئ حُکمُونه منئ، ۲۱ لکه
”دے له لاس مه وروړئ، دا مۀ څکئ اَؤ په دے مۀ
بلوسيږئ؟“ ۲۲ دا ټول څيزُونه په اِستعمالولو کښے به ختم
شی ځکه چه دا حُکمُونه اَؤ تعليمُونه اِنسان جوړ کړی دی.
۲۳ داسے ښکارى چه دَ دے حُکمُونو بُنياد په حکمت
کيښودے شوے دے، دَ مِثال په طور هغوئ دَ خپلے مرضئ
په مُطابق عبادت کوى اَؤ دَ دروغو عاجزى ښکاره کوى اَؤ دَ
فقيرانو په شان په ځان سختے تيروى، خو داسے حُکمُونه
بے فائدے دی ځکه چه هغوئ دَ نفسانى شوقُونو په قابو
مُوندلو هيڅ فائده نۀ ورکوى.

۳ ۱ آيا تاسو دَ مسيح سره نۀ وئ راژوندی کړی شوی؟
نو بيا تاسو دَ آسمانى څيزُونو لټُون کوئ چرته چه مسيح
موجُود دے اَؤ دَ خُدائے ښى طرف ته ناست دے. ۲ دَ
آسمانى څيزُونو خيال ساتئ، نۀ چه دَ مزکے. ۳ زۀ دا
تکراروم چه تاسو مړۀ شوئ اَؤ اوس ستاسو ژوند دَ مسيح
سره په خُدائے کښے پټ دے. ۴ مسيح ستاسو ژوندُون
دے، کله چه هغه ظاهر کړے شی نو تاسو به هم دَ هغۀ سره
په جلال کښے ظاهر کړے شئ.

۵ نو بيا هغه شوقُونه مړۀ کړئ کُوم چه مزکين دی، يعنے
حرامکارى، ناپاکوالے، شهوت، بد خواهشات اَؤ حرص چه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بُت پرستی ده، ٦ چه دَ هغې په سبب دَ خُدائے غضب دَ
نافرمانئ په بچو نازلیږی. ٧ اَؤ تاسو هم په دے شوقُونو
کښے ژوند تیرولو.

٨ خو اوس تاسو هم دغه هر څۀ، یعنے غُصه، قهر،
بدخواهی، چُغلی اَؤ پُوچے خبرے پریږدئ. ٩ یو بل ته
دروغ مۀ وایئ ځکه چه تاسو زوړ اِنسانیت دَ هغه عملُونو
سره لرے کړے دے، ١٠ اَؤ نوے اِنسانیت مُو آغوستے
دے چه دَ معرفت دَ حاصلولو دَ پاره دَ خپل خالق په شکل
نوے کیږی. ١١ په دے کښے نۀ یهُودی پاتے شو، نۀ غیر
یهُودی، نۀ سُنت شوے، نۀ ناسُنته، نۀ بهرنی، نۀ وحشی، نۀ
غُلام اَؤ نۀ آزاد، بلکه مسیح په تاسو ټولو کښے هر څۀ دے.
١٢ نو بیا تاسو دَ خُدائے خلق یئ، هغۀ تاسو سره مینه
وکړله اَؤ هغۀ تاسو غوره کړئ، ځکه زړۀ سواندے، مهربانی،
عاجزی، شرافت اَؤ زغم واغوندئ. ١٣ دَ یو بل زغم کوئ.
که په تاسو کښے څوک دَ بل چا خلاف څۀ شکایت لری نو
تاسو ئے هغه شان معاف کوئ لکه چه تاسو مالِک معاف
کړئ. ١٤ اَؤ دَ دے نه سوا تاسو په خپلو کښے مینه وساتئ
چه تاسو په کامل طور دَ یو بل سره یو کړی. ١٥ اَؤ دَ مسیح
سلامتی دَ کُومے دَ پاره چه تاسو یو وجُود شوئ اَؤ راوبللے
شوئ دِ ستاسو په زړُونو کښے حُکُومت وکړی، اَؤ تاسو
شکر گذار اوسئ. ١٦ دَ مسیح کلام دِ ستاسو په زړُونو
کښے ډیر ځائے ومُومی، اَؤ په خپلو کښے یو بل ته تعلیم
ورکوئ اَؤ نصیحت کوئ، اَؤ په خپلو زړُونو کښے دَ شکر
گذارئ سره دَ خُدائے ثنا، زبور اَؤ رُوحانی سندرے وایئ.
١٧ هر څۀ چه تاسو کوئ، که تاسو خبرے کوئ یا څۀ کار،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ټول دَ مالِک عیسیٰ په نُوم کوئ اَؤ دَ هغهٔ په وسیله دَ خُدائے پلار شکر کوئ.

## دَ نوی ژوندُون دَ ښیګړے کار

۱۸ اَئے میرمنو! تاسو دَ خپلو خاوندانو تابعدارے اوسئ چه دا ستاسو دَ ایماندارانو فرض دے.

۱۹ اَئے خاوندانو! دَ خپلو ښځو سره مینه لرئ اَؤ دَ هغوئ سره ترخیږئ مه.

۲۰ اَئے بچو! دَ مور پلار حُکم په هره خبره کښے منئ ځکه چه په دے خُدائے خوشحالیږی.

۲۱ اَئے پلارانو! خپل اؤلاد مهٔ تنګوئ، هسے نهٔ چه هغوئ زړهٔ بائیلی.

۲۲ اے غُلامانو! تاسو دَ خپلو جسمانی مالِکانو تابعدار اوسئ، دا صرف په ظاهری طور دَ هغوئ دَ خوشحالولو دَ پاره نه، بلکه دَ زړهٔ دَ اِخلاصه اَؤ دَ خُدائے دَ ویرے نه. ۲۳
تاسو هر څهٔ چه کوئ دَ زړهٔ په مینه ئے کوئ لکه چه دا تاسو دَ مالِک دَ پاره کوئ، نهٔ چه دَ بنی آدمو دَ پاره. ۲۴ ځکه چه
تاسو خبر یئ چه دَ مالِک له طرفه به دَ دے په بدل کښے تاسو میراث مُومئ. تاسو دَ مالِک خدمت کوئ. ۲۵ ځکه
چه څوک چه بد کوی هغه به دَ خپلے بدئ بدله مُومی، هلته به دَ هیچا هیڅوک طرفدار نهٔ وی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ ۱ اَئے مالِکانو! دَ خپلو غُلامانو سره عدل اَؤ اِنصاف
کوئ ځکه چه تاسو په دے پوهه يئ چه په آسمان کښے
ستاسو هم يو مالِک شته.

## نصيحتُونه

۲ په دُعا کښے مشغُول اَؤ بيدار اوسئ اَؤ شکر گذاری
کوئ. ۳ اَؤ ورسره زمُونږ دَ پاره هم دُعا کوئ چه خُدائے
مُونږ له موقعه راکړی چه دَ هغهٔ پيغام واؤرُوو چه مُونږ دَ
مسيح هغه راز بيانولے شُو چه دَ هغهٔ په سبب هم زَهٔ قيد
کړے شوے يم، ۴ اَؤ چه هغه داسے څرگند کړم څنگه
چه ما له کول په کار دی.

۵ وخت قيمتی وگڼئ، اَؤ دَ بے ايمانانو سره دَ هوښياری
سلُوک کوئ. ۶ ستاسو کلام دِ هميشه داسے دَ فضل نه
ډک اَؤ خوندناک وی چه تاسو هر چا له مُناسب جواب
ورکولے شئ.

## آخری سلام

۷ تاسو به زما په حقله زمُونږ دَ خوږ ورور اَؤ وفادار
خدمتگار تخيکوس نه واؤرئ چه دَ مالِک په کار کښے زمُونږ
ملگرے دے. ۸ ما هغه دَ دے دَ پاره درولېږلو چه تاسو
زمُونږ په حال خبر کړی اَؤ تسلی درکړی. ۹ اَؤ دَ هغهٔ سره
زمُونږ اِتباری اَؤ خوږ ورور اونيسيموس هم درځی اَؤ هغه
ستاسو نه يو دے. هغوئ به تاسو ته دَ دے ځائے په باب
کښے ټولے خبرے وکړی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ اریسترخوس چه ما سره قیدی دے، سلام درلیږی، اَؤ
دغه شان دَ برنبا تربُور مرقوس هم، دَ چا په حقله چه تاسو ته
حُکم درکړے شوے وو چه که هغه راغے نو ښهٔ هر کلے
ئے وکړئ، ۱۱ اَؤ یسوع چه ورته یُوستوس وائی هم سلام
وائی. دوئ له یهُودیانو نه درے کسان دی چه دَ خُدائے دَ
بادشاهئ په کار کښے زما ملګری دی اَؤ په هغوئ زما لویه
تسلی ده.

۱۲ دَ عیسیٰ مسیح دَ خادم اِپفراس چه ستاسو نه یو دے، دَ
هغهٔ هم سلام قبُول کړئ. هغه تل ستاسو دَ پاره لاس په دُعا
دے چه تاسو دِ کاملان اَؤ دَ مظبُوطے عقیدے خاوندان شئ
اَؤ دَ خُدائے په مرضئ چلیدُونکی پاکان شئ. ۱۳ زهٔ دَ هغهٔ
ګواه یم چه هغه ستاسو دَ پاره اَؤ دَ لودیکیه اَؤ دَ هیراپولس دَ
خلقو دَ پاره ډیره خواری کوی. ۱۴ اَؤ خوږ طبیب لُوقا اَؤ
دیماس درته سلام وائی.

۱۵ دَ لودیکیه ورُوڼو اَؤ نمفاس اَؤ دَ هغے دَ کور جماعت ته
سلام ووایئ. ۱۶ اَؤ هر کله چه دا خط ولولئ نو بیا ئے دَ
لودیکیه په جماعت کښے هم واؤروئ، اَؤ هغه خط چه دَ
لودیکیه نه راشی نو هغه تاسو هم ولولئ. ۱۷ اَؤ ارخیپوس ته
ووایئ چه "کُوم خدمت چه په مالِک کښے تا ته سپارلے
شوے دے، هغه پُوره کړه."

۱۸ زهٔ پولوس په خپل لاس تاسو ته سلام لیکم. زما
زنځیرُونه په یاد ساتئ!

په تاسو دِ دَ خُدائے فضل وی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو پوښتني لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © عام ۱۹۹۶
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.